انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۲۲/۰۵/۰۶

# نه پو هــیږم

چــي ګــلان څــوک خرڅــوي ، اخلــي بــه څــه؟
چــی ایمــان څــوک خرڅــوي، اخلــي بــه څــه؟

دی بــازار کــی هرڅــه لانــدي بانــدي کیــږي
خــو چــي ځــان څــوک خرڅــوي، اخلــي بــه څــه؟

نــه پوهیــږم چــی دا څــه ســودا ګــري ده
چــی جانــان څــوک خرڅــوي، اخلــي بــه څــه؟

پــه غلــطو لارو ځــی خــو وایــی ســم یــم
چــی وجــدان څــوک خرڅــوي، اخلــي بــه څــه؟

لــیلام کــډ دی شــات او زهــر کــډ خرڅیــږی

خــو چــی ګــران څــوک خرڅــوي، اخلــي بــه څــه؟

دا ژونــدون خــو پــه انســان بانــدي ښایســته دی
چــي انســان څــوک خرڅــوي، اخلــي بــه څــه

کــوم نیمــګری چــی پــردی خپــلوی نــه شــي
او خپــلوان څــوک خرڅــوي، اخلــي بــه څــه؟

مارچ/۲۰۲۲/۱۷

تورنتو – کاناډا



برای مطالب دیگر انجنیر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دي آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com